د افغانستان اسلامي امارت
د ارشاد، حج او اوقافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعي ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دوارو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي

---

۲۹/ جمادي الأول /۱۴۴۴هـ ق مطابق۲/ جدی/۱۴۰۱هـ ش

# معذورينو او معلولينو ته بشپړه پاملرنه او ورسره هر اړخيزه مرسته کول.

الحمد لله رب العالمين، على نعمه الظاهر والباطنه لا نحصى ثناء عليه هو كما اثنى على نفسه، واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له له الملک وله الحمد وهو على كل شيٍ قدير واشهدان محمداً عبده ورسوله ، ارسله لبيان الحق وهداية الخلق ، فبين للناس ما نزل اليهم من ربهم وترک الامة على البيضاء ليلها كنهارها، لا يزيغ عنها الاهالک صلى الله عليه وعلى آله واصحابه ومن تبعهم باحسان، وسلم تسليماً كثيراً.اما بعد:

د بدن د اندامونو جوړوالی د الله تعالی نعمتونه دي او په کارده چې بنده د خپل د وجود د غړو په روغوالي باندې دالله تعالی شکر اداء کړي.

په ټولنه کې داسې خلک هم شته چې د وجود ځينې غړي يې نيمګړی وي او معذور وي، ځوک په پښو معذور وي ، ځوک په لاسونو معذور وي، ځوک په سترګو معذور وي او ځوک په خوله ګونګی وي چې دا ټول د الله تعالی له لوري دي او په دې سره بندګان ازمايې چې آيا بنده د داسې مصيبت په مقابل کې صبر کوي او که بې صبري کوي او سالم انسان چې معذور انسان ويني بايد د شکر په نيت دادعاء ووايې: ( الحمد لله الذي عافاني مما ابتلاه به وفضلني على كثير ممن خلق تفضيلا).

معذوريت او معلوليت د مسلمان همت نه کمزوری کوي، بلکې زيات معذور او معلول خلک ليدل شوي دي چې د هغوی عزم او همت د زياتو سالمو او روغو خلکو څخه هم لوړ او عالي وي.

داسلام په ځلانده تاريخ کې مونږ داسې نمونې لرو چې د علم، تقوا، لوی لوی مجتهدين او امامان ؤ او په دين کې زمونږ رهبران دي او ددې امت لپاره يې نه هيريدونکي خدمات ترسره کړي دي چې ياد يې تر ننه پورې دتاريخ په زرينو پاڼو کې را پاتې دی او د لويو لويو مرتبو څښتنان ؤ او معذورين او معلولين ؤ.

د عبس سورت لومړني آيتونه د هغه جليل القدر ابن مکتوم رضي الله عنه صحابي په اړه نازل شوي دي چې په سترګو ړوند ؤړ او بالآخره د قادسيې په غزوه کې په شهادت ورسيده. حضرت معاذ ابن جبل رضي الله عنه په اړه رازي چې هغه په پښه معذور ؤ چې د اسلامي تاريخ يوه برخه ده او پيغمبرعليه السلام په يمن کې د والي په

صفت کمارلی ؤ. حضرت عمر رضي الله عنه د معاذ ابن جبل په هکله وایي:(من أراد الفقه، فليأتِ معاذ بن جبل).
[رواه الحاکم]
د قرآن کریم ترجمان عبدالله ابن عباس رضي الله عنه د ژوند په اخر وخت کې په سترګو معذور شوی ؤ. امام عطاء ابن ابي رباح رحمه الله په لاس معذوره ؤ خو د مکې مکرمې لوی فقیه ؤ.
امام ترمذی رحمه الله په باره کې رازي چې هغه په آخر عمر کې په سترګو ړوند شوی ؤ او په آحادیثو کې لوی امام ؤ.
معذور، معیوب او معلول کسان د ټولنې اعضاء دي او د ټولنې په روغو کسانو زیات حقوق لري.
په معذوریت او معلولیت باندې صبر کول په کاردی.
په چا باندې چې الله ددې امتحان راوستی وي او د هغه د وجود کوم غړی معیوب او یا معلول وي، باید چې په دی امتحان باندې صبر وکړي ترڅو لوی اجر یې په برخه شي؛ ځکه دالله په قضاء باندې رضا دایمان برخه ده او تل داسې فکر وکړي چې دا هر څه دالله تعالی له لوری دي.

سالم او معیوب خلک دواړه دلې په ازمیښت کې دي، د سالم او روغ انسان څخه به د هغه د روغو اندامونو په اړه پوښتنه کیږي هغه په صحت ازمایل کیږي؛لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (كُلُّ سُلاَمَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ). متفق علیه  ترجمه: په هر غړي د خلکو باندې صدقه ده. روغ او سالم انسان باید د هر غړي صدقه اداء کړي چې دا هم  دده په حق کې امتحان دی.

همد ا راز معیوب شخص د معیوب غړي په وجه په ازمیښت کې دی او په صبر ازمایل کیږي.  الله جل جلاله فرمایي:{وَبَلَوْنَاهُمْ بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} الاعراف: (۱۶۸) ترجمه: او وه ازمایل مونږ دوی په نیکیو ( نعمتونو لکه صحت ، غناء) او په بدیو ( زحمتونو لکه مرض فقر) بنایې چې دوی وګرځي ( الله تعالی).

په یو بل آیت کریمه کې رازي:{ وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً}. [الأنبياء: ۳۵] ترجمه: او ازمایو مونږ تاسې ( په دنیا کې) په شر بدۍ او په خیر نیکی سره په ازموینه.

په معذوریت او معلولیت باندې د صبر څخه مراد دادی چې د الله تعالی په قضاء ځان راضي وګڼي او مخلوق ته د خپل تکلیف په اړه شکایت ونه کړي او دخپل توان په اندازه دالله تعالی عبادت وکړي او د سوالګرۍ څخه ځان وساتي.

په حدیث شریف کې رازي: (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه - قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ إِنَّ اللهَ قَالَ إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ). صحیح البخاري

ترجمه:- د انس ابن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل چې الله تعالی فرمایې: کله چې زه خپل بنده په دواړو سترګو په ړوندوالي مبتلا کړم او وربادې یې صبر وکړ، ده ته به ددې دواړو په بدل کې جنت ورکړم.

په مریضی باندې صبر کولو بدله جنت دی.په حدیث شریف کې راځي: (عن عَطَاء بْن أَبِي رَبَاحٍ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلَى قَالَ هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَتْ إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ لِي قَالَ إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَكِ فَقَالَتْ أَصْبِرُ فَقَالَتْ إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ لِي أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا).صحیح البخاري

ترجمه:- دعطاء ابن ابی رباح رحمه الله څخه روایت دی هغه وایې چې ماته عبدالله ابن عباس رضي الله عنه وویل: آیا زه تاته جنتي ښځه ونه ښایم؟ ما ورته وویل: بلی! راته وه یې ښایه. هغه وویل: هغه دا توره ښځه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته یې وویل: زه بې هوشه کیږم او په بې هوشی کې مې عورت ښکاره کیږي زمالپاره الله تعالی ته دعاء وکړه ( چې زه روغه شم) پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: که ستا خوښه وي صبر وکړه او ستا لپاره جنت دی او که دې خوښه وي زه درته د الله تعالی څخه وغواړم چې تا روغه کړي. هغه ښځې وویل: زه صبر کوم . بیا هغه ښځې وویل: زما عورت ښکاره کیږي د بې هوشی په حالت کې د الله تعالی څخه راته وغواړه چې زما عورت ښکاره نشي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دعاء وغوښتله.
په یو بل حدیث کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (أَلا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الجَنَّةِ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعَّفٍ، لَوْ أَقْسَمَ على اللهِ لأَبَرَّهُ) متفق علیه
ترجمه:- آیا تاسو زه خبر نکړم په جنتي خلکو؟ جنتي خلک هغه کمزوري او مستضعف (هغه چې خلک یې حقیر او ټیټ کڼي) ، که چیرې په الله قسم یاد کړي، الله تعالی به یې خامخا بری کړي په قسم کې.
په آخرت کې به دعافیت خاوندان د معذورو او معلولو خلکو د حالت آرزو وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (يَوَدُّ أهلُ العافيةِ يومَ القيامةِ حينَ يُعْطَى أهلُ البَلاءِ الثَّوابَ لَوْ أنَّ جُلُودَهُمْ كانتْ قُرِضَتْ في الدُّنيا بالْمَقَارِيضِ) رواه الترمذي
ترجمه:- د قیامت په ورځ به د عافیت خاوندان آرزو وکړي کله چې د مصیبت خاوندانو ثواب ورکول کیږي کاشکې چې زمونږ پوستکي په قینچې باندې غوڅ شوی وی.( اوداسې ثواب مو په برخه شوی وی).

معذور شخص باید دا وکڼي چې په دې معذورتیا کې زما لپاره خیر دی؛ لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (مَنْ يُرِدِ اللّهُ بِهِ خَيْراً يُصِبْ مِنْهُ). رواه البخاري. ترجمه: چاته چې الله تعالی د خیر اراده وکړي ورته مصیبت ورسوي.

د درې کسانو  ابرص مرض والا، د کنجې او ړوند واقعه:

(عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، يَقُولُ: إِنَّ ثَلاَثَةً فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمَى بَدَا للهِ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا فَأَتَى الأَبْرَصَ فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ: لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ حَسَنٌ قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ قَالَ: فَمَسَحَهُ، فَذَهَبَ عَنْهُ فَأُعْطِيَ لَوْناً حَسَناً فَقَالَ:أَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ: الإِبِلُ فَأُعْطِيَ نَاقَةً عُشَرَاءَ فَقَالَ: يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا، وَأَتَى الأَقْرَعَ فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ: شَعَرٌ حَسَنٌ، وَيَذْهَبُ عَنِّي هذَا قَدْ قَذِرَنِيَ النَّاسُ قَالَ: فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ وَأُعْطِيَ شَعَرًا حَسَنًا قَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ: الْبَقَرُ قَالَ: فَأَعْطَاهُ بَقَرَةً حَامِلاً وَقَالَ: يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا، وَأَتَى الأَعْمَى، فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ: يَرُدُّ اللهُ إِلَيَّ بَصَرِي، فَأُبْصِرُ بِهِ النَّاسَ قَالَ: فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ قَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ: الْغَنَمُ فَأَعْطَاهُ شَاةً وَالِدًا فَأُنْتِجن هذَانِ وَوَلَّدَ هذَا فَكَانَ لِهذِهِ وَادٍ مِنْ إِبِلٍ، وَلِهذَا وَادٍ مِنْ بَقَرٍ، وَلِهذَا وَادٍ مِنَ الْغَنَمِ، ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى الأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ، فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ تَقَطَّعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلاَ بَلاَغَ الْيَوْمَ إِلا بِاللهِ، ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ، بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ، وَالجِلْدَ الْحَسَنَ، وَالْمَالَ، بَعِيرًا أَتَبَلَّغُ عَلَيْهِ فِي سَفَرِي فَقَالَ لَهُ: إِنَّ الْحُقُوقَ كَثِيرَةٌ فَقَالَ لَهُ: كَأَنِّي أَعْرِفُكَ أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ، فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ اللهُ فَقَالَ: لَقَدْ وَرِثْتُ لِكَابِرٍ عَنْ كَابِرٍ فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا، فَصَيَّرَكَ اللهُ إِلَى مَا كُنْتَ، وَأَتَى الأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ، فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهذَا فَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ عَلَيْهِ هذَا فَقَالَ: إِن كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللهُ إِلَى مَا كُنْتَ، وَأَتَى الأَعْمَى فِي صُورَتِهِ فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ، وَابْنُ سَبِيلٍ، وَتَقَطَّعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلاَ بَلاَغَ الْيَوْمَ إِلاَّ بِاللهِ، ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ، بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ، شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي فَقَالَ: قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللهُ بَصَرِي، وَفَقِيرًا فَقَدْ أَغْنَانِي فَخُذْ مَا شِئْتَ فَوَاللهِ لاَ أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ بِشَيْءٍ أَخَذْتَهُ للهِ فَقَالَ: أَمْسِكْ مَالَكَ فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ فَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنْكَ، وَسَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ).[أخرجه البخاري]

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: په بني اسرائيلو کې درې کسان ؤ يو د برص مرض والا ؤ، بل کنجی ؤ او بل ړوند ؤ. الله تعالی وغوښتل چې په دوی امتحان وکړي. دوی ته يې يوه ملائکه ور وليږله هغه ملائکه د برص مرض والا ته ورغله او ورته يې وويل: تا ته څه شی ډير محبوب دي؟ هغه وويل: ښايسته رنګ او شايسته پوستکی، بيشکه بد می ګڼي خلک. ملائکې هغه باندې لاس را ښکلو د هغه څخه هغه مرض لاړ او هغه ته ښايسته رنګ او ښايسته پوستکی ورکړ شو. ملائکې ورته وويل: په مالونو کې درته کوم مال محبوب دی؟ هغه وويل: اوښ راته محبوب دی، هغه ته يوه بلاربه اوښه ورکړل شوه او وررته يي وويل چې په دې کې به درته برکت واچول شي. بيا کنجي ته ورغله او ورته يې وويل چې تا ته کوم شی ډير محبوب دی؟ هغه وويل چې ماته ښايسته ويښتان خوښ او بل داچې له ما څخه دا حالت لری شي؛ بيشکه خلک را څخه نفرت کوي، په هغه يې لاس راښکلو او له هغه څخه کنجي توب لری شو او ورته ښايسته ويښتان ورکړل شو او ورته يې وويل چې کوم ډول مال خوښ ګڼې؟ هغه وويل غوا مې خوښه ده. هغه ته حامله غوا ورکړل شوه او ورته يې وويل چې

په دې کې به درته برکت واچول شي. بیا ملائکه رانده ته ورغله او ورته یې وویل تاته څه شی ډیر محبوب دی؛ هغه وویل: داچې الله تعالی راته دید بیرته راکړي او زه خلک په سترګو ووینم. وایې چې ملائکې په هغه لاس راښکلو او الله تعالی ورته بیرته د سترګو نظر واپس ورکړ، ملائکې ورته وویل: په مال کې دې کوم مال خوښ دی؟ هغه وویل: ګډه راته خوښ مال دی، هغه ته یې ګډه ورکړه چې هغه سره لنګه شوه. دغه اوښه او غوا لنګه شوه او ګډې هم بچې وزېږولو ددغه کس یوه ګله اوښان شول او ددې بل کس یوه ګله غواګانې شوی او ددی بل هم یوه رمه ګډې زیاتې شوی. دا ملائکه ابرص ته په هغه پخواني صورت او شکل کې ورغله او ورته یې وویل: زه یو مسکین یم په دې سفر کې راباندې ټول وسائل او اسباب تمام شوي دي او خلاص شوي دي، نن ورځ نشم رسیدلی منزل ته؛ مګر د الله تعالی په مرسته او بیا پر تاباندې، زه له ستا څخه د هغه ذات په نوم باندې سوال کوم چې تا ته یې ښایسته رنګ درکړی دی او او ښایسته پوستکی یې درکړی دی او مال یې درکړی دی او له تا څخه یو اوښ غواړم چې خپل منزل ته ورباندې ځان ورسوم په دې سفر کې. هغه سړي ورته وویل: پر ما باندې د مالي حقوق زیات دی او تاته په کې څه نه رسیږي. ملائکې ورته وویل: لکه چې تا زه پیژنم آیا ته هغه ابرص مرض والا نه یې چې خلکو درنه کرکه کوله ، فقیر وی او الله تعالی درته مال درکړ؟ هغه ورته وویل: دا ما ته د مخکنیو مشرانو، مشرانو څخه په میراث را پاتې شوی دی. هغه ملائکې ورته وویل: که چیرې ته درواغجن وی الله تعالی دې هغه حالت ته وګرځوه چې پخوا وی. ملائکه هغه ګنجې ته ورغله په خپل مخکني شکل او صورت کې هغه ته یې هم هغسې وویل لکه چې د برص مرض والا ته یې ویلي ؤ، هغه هم ورته هغسې ځواب ورکړ؛ لکه چې د برص مرض والا ورته ورکړی ؤ. هغه ملائکې ورته وویل: که چیرې ته درواغجن وی الله تعالی دې تا هغه حالت ته ورسوي چې پخوا وی. بیا ملائکه رانده ته په مخکني شکل کې ورغله ورته یې وویل: زه مسکین یم او لاروی یم او پر ما ټولې وسیلې په دې سفر کې قطع شوي دي، نشته رسیدل زما خپل منزل ته مګر په الله تعالی او بیا پرتا باندې دي، زه غواړم په نوم دهغه ذات چې تاته یې د سترګو نظر واپس درکړو یو ګډ ترڅو زه ورسیږم په هغه باندې خپل منزل ته په سفر کې. هغه سړي وویل: زه ړوند وم ماته الله تعالی د سترګو لید راکړ او فقیر وم زه یې غني کړم واخله هر څومره چې دی خوښه وي قسم په الله چې زه پر تا نن ورځ هیڅ قسم سختی نه کوم په هغه څه کې چې ته یې واخلی دالله د رضا لپاره. ملائکې ورته وویل: خپل مال دې وساته ؛ بیشکه تاسې ازمایل کیدلی، بیشکه له تا څخه الله تعالی راضي شو او پر هغه نورو دواړو په غضب شو.

د عروه بن زبیر بن عوام رحمه الله واقعه:

عروه بن زبیر بن عوام رحمه الله چې جلیل القدر تابعي ؤ عبدالملک بن مروان لیدو لپاره روان ؤ او په پښه یې خوراکي دانه وه کله چې عبدالملک بن مروان د ملاقات وخت رانږدی شو د پښې خوراکي دانه یې زیاته شوه او ټولې پښې ته یې سرایت وکړ. طبیب ورته وویل:د پښې د قطع کولو څخه پرته بله چاره نلرو. عروه بن زبیر رح وویل: څرنګه به یې قطع کړئ؟ طبیب وویل: تاسو به شراب وڅښئ ترڅو د پښې د قطع کولو په درد پوهه نشی.

حضرت عروه رح ورته وویل: زه داسې نه کوم، زه داسې نشم کولای چې د امتحان پر وخت شراب وڅښم او د امتحان په لحظه کې د حرامو مرتکب شم او زه داسې مسلمان نه یېژنم چې په هغه داسې حالت راشي چې د خپل رب څخه غافل شي. داسې وکړئ چې کله زه په لمانځه ودریږم په دې حالت کې تاسې کولای شئ چې پښه را څخه قطع کړئ. همداسې وشو کله چې حضرت عروه رح په لمانځه ودریده طبیب ورڅخه پښه قطع کړه او هغه وربانديې پوهه نشو. دعروه رح څلور زامن ؤ ، د پښې د قطع کیدو څخه یو څو ورځې ورسته مشر زوی یې آس ووهلو او مړ شو دا خبر چې کله ورته راورسیده داسې یې وویل: ای الله! له څلورو څخه دی یو واخیست او دری راته پاتې شول او دڅلورو اندامونو څخه دی یو واخیست او دری را پاتې شو او داسې یې وویل:(اللهم لئن ابتليت فلقد عافيت، ولئن أخذت فلقد أبقيت، قال الله تبارك وتعالى: { لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ } [إبراهيم:٧] .

همدا راز معذورو او معلول کسانو ته په کاردي چې د ابو قلابه رحمه الله په څیر صابره اوسي. ابو قلابه رحمه الله چې د انس بن مالک رضی الله عنه او کنو صحابه کرامو څخه یې زیات آحادیث روایت کړي دي په دواړو سترګو ړوند ؤ ، په دواړو پښو کوډ ؤ او په دواړو لاسونو معذور ؤ، خو عبدالله بن محمد وایې چې ما کله هغه ولیده داسې دعاء یې کوله: ( اللهم أوزعنی أن أحمدك حمدا أكافىء به شكر نعمتك التي أنعمت بها على وفضلتنی على كثير ممن خلقت تفضيلا) ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې ستا خو لاسونه ، پښې او سترګې معذوره دي بیا نو ته دالله تعالی د کوم نعمت شکر اداء کوئ؟ هغه راته په ځواب کې وویل؛ چې دا کوری نه چې ژبه مې روغه ده او دالله تعالی ذکر وربانديې کوم . قسم په الله تعالی چې که چیرې الله تعالی پر ما دآسمان څخه اور و وروي او ما وسیزي او یا بحرونو ته امر وکړي او ما غرق کړي او یا ځمکې ته امر وکړي او ما ژوندی تیر کړي، زه به بیا هم دالله تعالی شکر اداء کوم.[الثقات لابن حبان).

د معذورینو او معلولینو حق په نظام باندې :

اسلامي شریعت د ژوند په هره برخه کې او د ټولو انسانانو لپاره ځانګړي حکمونه او هدایات لري او هیڅوک داسې نشته چې د هغه حقوق او وجایب په شریعت کې معلوم نه وي.

الله تعالی د معذورینو او معلولینو لپاره ځینې استثنایې حکمونه رالیږلي دي. الله تعالی معذور او معلول خلک د سالمو په شان په مسلح جهاد نه دي مکلف کړي؛ داددې ښکاره دلیل دی چې دوی په ځینو مواردو کې دځینو حکمونو څخه مستثنا دي لکه مسلح جهاد. الله جل جلاله فرمایلي دي:{لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ } [النور: ٦١]

ترجمه:- نشته پر ړانده هیڅ حرج( مشقت) او نه پر کوډ هیڅ حرج( محنت او وبال) او نه په رنځور هیڅ حرج ( سختي او ملامتیا).

همدا  راز رسول الله صلی الله علیه وسلم د معذورینو او معلولینو سره داسې معامله کوله چې له امله به یې د معذورینو او معلولینو په زړه کې مینه، محبت او درناوی پیدا کیده او دا ددې سبب کیده چې د هغوی په زړونو کې د معلولیت په مقابل کې صبر، تحمل او شجاعت تقویه شي او لکه د سالمو خلکو په شان په ټولنه کې مثبت رول اداء کړي.

دا ډیره د خوښۍ ځای دی چې دافغانستان اسلامي امارت د شهداؤ او معلولینو وزارت تر چتر لاندې تقریباً د پنځه لکه یتیمانو، کونډو، معلولینواو معیوبینو سرپرستي کوي او د هغوی سره دکال په جریان کې مالي مرسته کیږي او ورته اعانه  ورکول کیږي، پرته له دې چې د تیر نظام دیتیمانو، معیوبینو او معلولینو او د اسلامي امارت د یتیمانو، معیوبینو او معلولینو ترمنځ کوم توپیر موجود وي.
پر دې علاوه باید چې اسلامي نظام معذورینو او معلولو ته ارزښت ورکړي او په نظام کې یې له ځانه سره شریک کړي او باید دوی تجرید نشي خصوصا هغه مجاهدین چې په مقدس جهاد کې یې لاسونه، پښې او سترګې د لاسه ورکړي دي.
په کارده چې هغو کسانو ته چې معلولیت یې کم وي او د دندې کولو ظرفیت ولري د هغوی د توان او تجربې سره مناسب دنده ورکړل شي او که د دندې توانایې ونه لري، د هغوی لپاره کاري فرصتونه رامنځ ته شي؛ ترڅو هغوی د تنهایې او تجرید احساس ونه کړي.
لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم  دوه ځله عبدالله ابن مکتوم رضي الله عنه په مدینه منوره باندې خپل ځای ناستی وټاکه او خلکو ته به یې لمونځ ورکولو او په سترګو معذوره ؤ.
 رسول الله صلی الله علیه وسلم دا کړنه ددې لپاره وکړه چې دا خلکو ته وښایې چې بهتري په سالم جسم پورې منحصر نه ده؛ بلکې د بهترۍ معیار علم، تقوا او توانایې ده.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قدم باندې صحابه کرامو قدم کیښود. د صحابه کرامو څخه وروسته بنو امویه خلفاوو همدغه لار تعقیب کړه او د معذورینو او معلولینو پالنه او سرپرستي به یې کوله. حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمه الله خپلو ټولو والیانو ته ولیکل چې ماته د ړندو، معذورینو او معلولینو نومونه راولیږئ، هغه چې لمانځه ته نشي تللای او د هغو لپاره یې د بیت المال څخه معاش مقرر کړ او د ړوند شخص لپاره یې لارښود مقرر کړ او د مزمن مریض لپاره یې خادم مقرر کړ.
همدغه چاره ولید بن عبدالملک ترسره کړه او په ۸۸ هـ کال کې یې د مزمنو مریضانو لپاره داسې مرستون رامنځ ته کړ چې په هغې کې به طبیبان او خادمان موجود ؤ چې ددغو مریضانو خدمت به یې کولو او معذورینو او معلولینو ته یې وویل چې تاسې دخلکوڅخه سوالګري مه کوئ.
د معذورینو او معلولینو خلکو حقوق پر سالمو خلکو او ددوی سره بشپړ هر اړخیزه مرسته کول:
معذور او معلول اشخاص زمونږ د ټولنې برخه ده او ټولنه ددی څخه ترکیب شوی ده.

د معذورينو او معلولينو سره هر اړخيزه مرسته کول ددوی حق او د شريعت هدايت دی، په لاره کې ورسره مرسته کول، د سرک څخه په تيريدلو کې ورسره مرسته کول، د اجتماعي خدماتو پر وخت ورسره مرسته کول، که چيرې دوی لباس ته اړتيا ولري، يا خوراک او څښاک ته اړتيا ولري د توان په اندازه ورسره مرسته کول د هر مسلمان اخلاقي مسؤليت دی.

د ټولنې د سالموخلکو په شان د معذورينو او معلولينو احترام کول او ورسره هر اړخيزه مرسته کول لازم ده؛ بلکې د سالمو خلکو په پرتله ددوی سره مرسته او کومک کول زياته لازم ده؛ ځکه برعلاوه دا چې دوی د ټولنې غړي دي د سالمو په نسبت دوی مرستې ته زيات محتاج دي. بله دا چې معذورو او معلولو خلکو له کبله الله تعالی روغو خلکو ته روزي ورکوي لکه چې په حديث شريف کې رازي: (هَلْ تُنْصَرُونَ وتُرزقُونَ إلاَّ بضُعَفَائِكُمْ). رواه البخاري ترجمه:- تاسې سره مرسته نه کيږي او رزق نه درکول کيږي؛ مګر ستاسې د ضعيفانو په وجه درسره مرسته کيږي او رزق درکول کيږي.

په يو بل حديث کې راځي: (ابْغُونِي ضُعَفَاءَكُمْ، فإنما تُرزقُونَ وتُنصرُونَ بضُعفائكم) رواه الترمذي ترجمه: ما ولټوئ ستاسې ضعيفانو سره، بيشکه تاسې ته رزق درکول کيږي او مرسته درسره کيږي ستاسې د ضعيفانو له امله.

په يو بل حديث شريف کې راځي:(إنما يَنْصُرُ اللهُ هذهِ الأُمَّةَ بضَعِيفِهَا، بدَعْوَتِهِمْ وصلاتِهِمْ وإخلاصِهِمْ) رواه النسائي.

ترجمه:- بيشکه مرسته کوي الله تعالی ددې امت سره ددې امت دضعيفانو په وجه د دوی ددعاء له امله، ددوی دلمانځه له امله، ددوی داخلاص له امله.

د معذورو او معلولينو خلکو غوښتنه او بلنه بايد ومنل شي؛ ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم د معذور بلنه منله ده. په حديث شريف کې رازي:(عن عِتبان بن مالكٍ رضي الله عنه قال: أصابني في بَصَرِي بعضُ الشَّيْءِ، فبَعَثْتُ إلى رسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ أَنِّي أُحِبُّ أَنْ تَأْتِيَنِي فتُصَلِّيَ في مَنْزِلِي فأَتَّخِذَهُ مُصَلًّى، قالَ: فَأَتَى النبيُّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ ومَنْ شاءَ اللهُ مِنْ أصحابهِ، فدَخَلَ وهُوَ يُصلِّي في مَنْزِلِي..) رواه مسلم.

ترجمه:- د حضرت عتبان بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ورسيد زما سترګو ته يو څه کمزوري، ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يوڅوک وليږه او ورته مې وويل چې زه دا خوښه کړم چې تاسو راشئ او لمونځ وکړئ زما په کورکې زه به هغه ځای د لمانځه ځای ونيسم. هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راغی او يو څه اندازه صحابه هم ورسره راغلل راننوت او هغه لمونځ کولو زما په کور کې.

د معذورينو او معلولينو د حقوقو څخه د هغوی احترام کول اود هغوی د انساني کرامت ساتل دي او په هغوی پورې د مسخرو کولو څخه ځان ساتل دي؛ ځکه مسخرې کول ګناه ده. الله تعالی فرمايلي دي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى- أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ }[الحجرات: ١١].

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ټوکې اوسپکاوی دی نکوی هيڅ يو قوم له تاسې څخه په بل قوم باندې ځکه ښايی چې وی به دغه( مسخره کړی شوی) بهتره اوغوره (په نزد د الله )له دی(مسخره کونکيو)څخه

او(نه دی ټوکی اوسپکاوی کوی)یوله ټولی ښځی له تاسی په نورو ښځو ځکه ښای چې هغه(مسخره کړی شوی )به بهتری اوغوره وی(په نزد د الله له دی مسخره کونکیو څخه) او مه عیب جویې کوی بعضی د تاسو د بعضی- نورو ځکه چې بیا د تاسو عیب جویې هم کیږی(چې دا په حقیقت کې دځان عیب جویې ده )او مه غواړی تاسی یو تر بله په بد نومونو اوالقابو سره بد دی دا نومونه (سخریې، تلمز، تنابز)له جهته د فسق وروسته له ایمان درلودلو څخه. اوهغه چه توبه یې ونه ایستله نو دغ ه کسان هم دوی دی ظالمان(پر ځانونو خپلو) . د معذورینو او معلولینو باید بشپړاو هراړخیز خدمت وشي او حاجتونه يې پوره شي.په یو حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أنسٍ أَنَّ امْرَأَةً كَانَ فِي عَقْلِهَا شَيْءٌ، فقالتْ: يا رسولَ اللهِ إنَّ لِي إليكَ حَاجَةً، فقالَ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ: يا أُمَّ فُلانٍ انْظُرِي أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ، حتَّى أَقْضِيَ لَكِ حاجتكِ ، فَخَلا – أي وَقَفَ - مَعَهَا فِي بعضِ الطُّرُقِ، حتَّى فَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا) رواه مسلم.

ترجمه:- دانس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایې بیشکه یوه ښځه وه چې په عقل کې یې یو څه کمزوري وه، هغه ښځې وویل: ای دالله رسوله! زما تاته یو حاجت دی، پیغمبرعلیه السلام ورته وویل: ای ام فلان! وګوره په هره کوڅه کې چې ستا خوښه وي درسره دریږم؛ ترڅو ستا ضرورت درته پوره کړم، بیا پیغمبرعلیه السلام ورسره ودریده په ځینو لارو کې؛ ترڅو چې هغه ښځه د خپل حاجت څخه خلاصه شوه.

د معذورینو او معلولینو او د هغوی د صغیرانو اولادونو سرپرستي کول او هراړخیزه مرسته ورسره کول. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: (مَنْ تَرَكَ مالاً فَلِوَرَثَتِهِ، ومنْ تَرَكَ كَلاً فإلينا).بخاری

ترجمه:- چاچې په ترکه کې پریښنود مال هغه د هغه د وارث دی او چاچې پريښنود قرض او اولاد د هغوی سرپرستي مونږ ته محول ده.

معذورین او معلولین د مجاهدینو سره په اجر کې مساوي دي. (عَنْ أنسِ بنِ مالكٍ رضيَ اللهُ عنهُ أَنَّ رسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنا من المدينةِ، فقالَ: إنَّ بالمدينةِ أقواماً، ما سِرْتُمْ مَسِيراً، ولا قَطَعْتُمْ وادياً إلا كانوا مَعَكُمْ، قالوا: يا رسولَ اللهِ، وهُمْ بالمدينةِ؟ قالَ: وهُمْ بالمدينةِ، حَبَسَهُمُ العُذْرُ) رواه البخاري.

ترجمه:- د انس ابن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د غزوه تبوک څخه را وګرځیده او مدینې منورې ته نږدی شو، وه يې فرمایل: بیشکه په مدینه منوره کې داسې خلک دي چې تاسې هیڅ لاره نه دی وهلی او کوم خوړ مو نه دی وهلی؛ مګر هغوی له تاسو سره ؤ( شریک په اجرکې)، صحابه وو وویل: یارسول الله ! هغوی خو په مدینه منوره کې ؤ؟ پیغمبرعلیه السلام وفرمایل:هو ! هغوی په مدینه منوره کې وو، بند کړي ؤ دوی لره عذر ( په جهاد کې د تللوڅخه).

د معذورینو او معلولینو سره مرسته کول او سمې لارې ته رهنمايي کول، لویه صدقه ده او دمعذورین د سمې لارې څخه بې لارې کول لویه ګناه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(وإرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِي أَرْضِ الضَّلاَلَةِ لَكَ صَدَقَةٌ، وبَصَرُكَ للرَّجُلِ الرَّدِيءِ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ).[ ابنُ حبان]. ترجمه: او لار ښوول ستا سړي ته په ورکه ځمکه کې ستا لپاره صدقه ده او لاره ښوول ستا هغه سړي ته چې نظر يې کمزوری دی ستا لپاره صدقه ده.

په يو بل حديث شريف كې راځي: (لَعَنَ اللهُ مَنْ كَمَّهَ الأَعْمَى عنِ السَّبيلِ) رواه الحاكم. ترجمه: لعنت دې وي د الله په هغه شخص چې ورکه کړي رانده باندې لار.

د معذورينو او معلولينو څخه پټيدل لويه گناه ده.رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:(مَنْ وَلاَّهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ فَاحْتَجَبَ دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمُ احْتَجَبَ اللَّهُ عَنْهُ دُونَ حَاجَتِهِ وَخَلَّتِهِ وَفَقْرِهِ). سنن أبى داود

ترجمه:- څوک چې مقرر کړي ده لره الله تعالى په يو شي د مسلمانانو په چارو باندې او هغه پټ شو د هغوی د حاجت څخه او د هغوی له ضرورتونو څخه او فقر څخه، مخ به واړوي الله تعالى د ده د حاجت څخه ، دده د ضرورت څخه او دده دفقر څخه يعنى ورته به پوره نکړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د معذورينو او معلولينو سره په مرسته کولو امر کړی دی. (عنِ البَرَاءِ بنِ عازِبٍ رضيَ اللهُ عنهما قالَ: أَمَرَنا رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ بسَبْعٍ)، وذَكَرَ منها: (ونَصْرِ الضَّعيفِ، وعَوْنِ الْمَظْلُومِ) رواه البخاري.

ترجمه:- د براء ابن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې مونږ ته امر وکړ په اوو کارونو چې د هغې له جملې څخه يو يې د ضعيف سره مرسته کول او دمظلوم کومک کول دي.

رسو الله صلى الله عليه وسلم په معذورينو او معلولينو باندې د ظلم څخه منع کړی ده:(عَنْ جَابِرٍ ، قَالَ : لَمَّا رَجَعَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ مُهَاجِرَةُ الْبَحْرِ ، قَالَ : أَلاَ تُحَدِّثُونِي بِأَعَاجِيبِ مَا رَأَيْتُمْ بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ ؟ قَالَ فِتْيَةٌ مِنْهُمْ : بَلَى ، يَا رَسُولَ اللهِ ، بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ مَرَّتْ بِنَا عَجُوزٌ مِنْ عَجَائِزِ رَهَابِينِهِمْ ، تَحْمِلُ عَلَى رَأْسِهَا قُلَّةً مِنْ مَاءٍ ، فَمَرَّتْ بِفَتًى مِنْهُمْ ، فَجَعَلَ إِحْدَى يَدَيْهِ بَيْنَ كَتِفَيْهَا ، ثُمَّ دَفَعَهَا فَخَرَّتْ عَلَى رُكْبَتَيْهَا ، فَانْكَسَرَتْ قُلَّتُهَا ، فَلَمَّا ارْتَفَعَتِ الْتَفَتَتْ إِلَيْهِ ، فَقَالَتْ : سَوْفَ تَعْلَمُ يَا غُدَرُ إِذَا وَضَعَ اللَّهُ الْكُرْسِيَّ ، وَجَمَعَ الأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ ، وَتَكَلَّمَتِ الأَيْدِي وَالأَرْجُلُ ، بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ، فَسَوْفَ تَعْلَمُ كَيْفَ أَمْرِي وَأَمْرُكَ عِنْدَهُ غَدًا.قَالَ : يَقُولُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : صَدَقَتْ ، صَدَقَتْ كَيْفَ يُقَدِّسُ اللَّهُ أُمَّةً لاَ يُؤْخَذُ لِضَعِيفِهِمْ مِنْ شَدِيدِهِمْ ؟). سنن ابن ماجة.

دجابررضي الله عنه څخه روايت دی چې هرکله د بحر مهاجرين رسول الله صلى الله عليه وسلم ته را وگرځيدل، پيغمبرعليه السلام وفرمايل: آيا تاسې ماته هغه عجيبه خبرى نه کوی چې دحبشې په ځمکه کې مو ليدلي دي؟ ځينو ځوانانو وويل: بلى يارسول الله صلى الله عليه وسلم. مونږ ناست وُ په مونږ باندې يوه بوډۍ ښځه د راهبانو له ښځو څخه تيره شوه چې په سر يې د اوبو منگی وُ، د هغوی د يو ځوان په خوا تيريده چې هغه ځوان خپل لاسونه دهغه ښځې په اوږو کې ورکړل او بيايې ټيله ورکړه هغه ښځه په گونډو ولويده او هغه کټوه يې ماته شوه کله چې را پاڅيده هغه ځوان ته يي وکتل او وه يې ويل: ای غدره! زر دی چې پوهه به شې کله چې الله تعالى کرسی کيږدي او لومړني او وروستني خلک جمع کړي او خبرى وکړي لاسونه او پښې په هغه څه باندې چې دوی يې کوي ، زردی چې ته به چې څرنگه دی کار زما او کار ستاد هغه رب په وړاندې صباته.جابر رضى الله وايي

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه ښځې ربښتیا ویلي دي، هغه ښځې ریښتیا ویلي دي، هغه ښځې ریښتیا ویلي دي، څرنګه به پاک کړي الله هغه امت چې نه اخیستل کیږي د ضعیف لپاره بدله د قوي څخه.

د معذورینو او معلولینو له حقوقو څخه د هغوی سره کسیناستل او ورسره یوځای خوراک کول دي:{ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ} [النور: ٦١]

امام قرطبي ددې آیت په تفسیر کې وایې:(د پیغمبرعلیه السلام د بعثت څخه مخکې په عربو او اهل مدینه ؤ کې د خلکو عادت داؤ چې دوی به د معذورینو او معلولینو سره یوځای خوراک نه کولو، دوی به له دوی سره د کرکې له امله یوځای خوراک نه کولو او داچې په کاسه کې د ړوند انسان لاس ګرځي او ګوډ انسان خلاص کیني ددی وجې نه؛ چې داتول د جاهلیت د زماني ناوړه اخلاق دي). احکام القرآن.

د جماعت په لمانځه کې د معذورینو او معلولینو خیال ساتل.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(إذا صَلَّى أَحَدُكُمْ للنَّاسِ فلْيُخَفِّفْ، فإنَّ في النَّاسِ الضَّعِيفَ والسَّقِيمَ وذا الحَاجَةِ) رواه مسلم.

ترجمه: کله چې یو له تاسې څخه لمونځ ورکوي خلکو ته (په جماعت سره) باید چې تخفیف په کې وکړي بیشکه په خلکو کې ضعیف هم شته، مریض هم شته او د حاجت خاوند هم شته.

پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي دي که چیرې د معذورینو او معلولینو خاطر نه وای ما به لمونځ د شپې نیمایې حصه کې اداء کړی وای.

(ولَوْلا ضَعْفُ الضَّعِيفِ، وسَقَمُ السَّقِيمِ، لأَخَّرْتُ هذهِ الصَّلاةَ إلى شَطْرِ اللَّيْلِ). رواه أبو داود

ترجمه:- که چیرې د ضعیف د ضعف خاطر نه وی او د مریض د مرض خاطر نه وی، خامخا وروسته کړی به مې وی دا لمونځ ( لماخوستن) نیمې شپې ته.

الله تعالی به  ووائی چه زه مریض شوی وم  تا زما پوښتنی  ته راغلی  وی؟